# داختري منتخبي مسئلي

دارساله د دوو اکابرو مفتیانو د اختري د مسئلو مجموعه ده

مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد شفیع عثماني رحمه الله
مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي ولي حسن تونکي رحمه الله



## ترتیب او تخریج

## مولوي حکمت الله راغب

فاضل دارلعلوم کراچي و باني دارالعلوم امدادیه لنبکرگاه
وخطیب جامع مسجد مدني

Download from:aghalibrary.com

ناشر: شعبه نشر و اشاعت مدرسه عربیه دارالعلوم امدادیه

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا :
www.taleemulislam-radio.com

## بسم الله الرحمن الرحيم

## نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

امابعد : احقر حکمت الله راغب وایي چي ماځپل د دیني ورونو د خدمت لپاره او د خپل مسؤلیت د اداء کولو لپاره دادی د دوو اکابرو دیوبندي علماؤ لکه مفتی اعظم حضرت مولانا مفتي محمد شفیع رحمة الله علیه او مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي ولي حسن صاحب رحمة الله علیه د قرباني د احکامو د دوو رسالو څخه سره د یو څه اضافه والی هغه اړیني مسئلې په باب کښي د اختري را ټولي کړی او بیا مي دخپل سیمي همعصر علماؤ ته د تصحیح او سمون لپاره ور وړاندي کړی هغوي هم الحمد الله ټکي په ټکي وکتلې دهغه څخه مي وروسته بیا د نشر کولو جرات وکړی، خو یو څو یادوني باید په ذهن کښي وساتی :

۱ په دې کتاب کښي ټولي مسئلې مفتی به او راجح رانقل سوي دي.

۲ ټولي مسئلې د محقیقینو علماؤ تر نظر وتلي او اصلاح سوي دي.

۳ دهري مسئلې په پای کښي د هغه فقهي کتاب نوم په مختصره توګه د باور لپاره لیکل سوی دی چي هغه مسئله ور څخه اخستل سوېده.

۴ ترتیب د مسئلو اکثره د جواهر الفقه دی .
۵ د کومي مسئلې په پای کښي چي حواله نه وي دهغې حواله تر هغې مسئلې د وروسته مسئلې په پای کښي چي کومه حواله لیکلې ده هغه ده .

د ټولو همعصرو علماؤ څخه دا هیله کوم که مو چیري په دې مسئلو کښي غلطي پیدا کړه چي راته په ګوته یي کړی مهرباني به مو وي، ترڅو اصلاح یي کړو، او د ټولو لوستونکو څخه د دې دعاء غوښتنه کوم چي الله پاک ﷻ دي دغه کتاب خپل په دربار کښي قبول وګرځوي او هر هغه چاچي د دې په نشر کولو کښي مرسته کړې وي دهغه او زما دپاره دي زریعه د نجات وګرځي. امین

احقر حکمت الله راغب
باني دارالعلوم امدادیه لښکرګاه (۱۱ -۱۴۳۳)

## یادونه

د دې کتاب د کامپیوټر او د چاپ دچارو نسبت چي مولوي حکمت الله راغب صاحب و ما ناچیز بنده ته کړی دی، په دې کښي زه د الله سبحان وتعالی څخه په وار وار شکر ګزار یم، د لیکني په صورت کښي که کوم غلطي سوې وي، بخښنه راته کوی.

ناکاره احمد یاسین

# د ذوالحجي داولولسوشپو فضيلت

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چي د الله پاک ﷻ د عبادت لپاره د ذوالحجې تر لسو شپو غوره زمانه بله نسته ديوې ورځي روژه يې د يوه کال د روژو سره او د يوې شپې عبادت يې د شب قدرد شپې دعبادت سره برابر دی. (ترمذي ابن ماجه)

په قرآن مجيدکښې په (سورة والفجر)کښې الله پاک ﷻ په لسو شپو قسم اخيستی دی اوهغه لس شپې دجمهورو دقول مطابق دغه لس شپې دي، په خاصه توګه دذوالحجې دنهمي ورځي روژه نيول ديوه تيرشوي کال اوديوه راتلونکی کال دګناهونه کفاره ده اوداخترشپه په عبادت سره روڼول ډيرفضيلت اوثواب لري. (قرباني کي احکام اور مسايل)

## د تشريق تکبير

اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ط اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ط

د عرفات د ورځي يعنى نهم ۹ تاريخ د سهار څخه بيا تر تيارلسم ۱۳ تاريخ ترماځيګر پوري (په ۲۳ درويشت لمونځو کښي) د هر فرض لمانځه وروسته په لوړ اوازيو ځل دغه تکبيرونه ويل واجب دي فتوى پردي ده چي هر چا که لمونځ په جماعت وکړي او که يواځي او نارينه وي که ښځينه وي، ويل يي واجب دي خو هو ښځه به يى په کښته اواز وايى. (شامى)

**خبرتيا:** دغه تکبيرونه په ميانه لوړاواز سره ويل ضروري دي ډير خلګ په دې کښي غفلت کوي يايى نه وايى اويايى پټ وايى ددې اصلاح ضرورى ده. (جواهرالفقه)

## په لوى اختر کښي سنت عملونه

1. سهار وختي راپورته کېدل.
2. غسل کول.
3. مسواک وهل.
4. پاک صاف اوښه کالي اغوستل.
5. عطر لګول.
6. داختر دلمانځه څخه مخکښي شى نه خوړل.

۷ عیدګاه ته دتللو په وخت کښې پر لاره باندې په لوړ اواز تکبیرونه ویل. (قربانی کی احکام اورمسایل)

## اختری کول

اختری اهم عبادت دی اودشعائر اسلام څخه دی دجاهلیت په زمانه کښې هم دغه عبادت کېدی خودبتانو په نامه باندې کېدی دغه ډول نن سباه هم په نورو مذهبوکښې اختری دیومذهبی رواج په ډول باندې کیږي دبتانو پرنامه یادمسیح پر نامه یې حلالوی په (سورة انااعطینا) کښې الله پاک ﷻ وخپل رسول (صلی الله علیه وسلم) ته حکم کړی دی لکه څنګه چې لمونځ دالله پاک ﷻ څخه ماسیوا بل چا ته نسي کېدای دغه ډول اختری یاقرباني هم باید دالله ﷻ پر نامه وسي د (فصل لربک وانحر) هم دغه معنی ده په یو بل ایات کښې دغه معنی په یوبل عنوان باندې داسي بیان شوی ده:

اِنَّ صَلَوَاتِیْ وَنُسُكِیْ وَمَحْيَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰهِ

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (جواهرالفقه)

## داختری فضائل

دجمهورو مسلمانو په اتفاق سره اختری کول واجب دی. (شامی) رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ترهجرت وروسته لس کاله په مدینه شریفه کښي تېرکړي دي هرکال یی پرلپسې اختری کړی دی کم عمل چي نبی علیه سلام پرلپسی کړی وي یووخت یی هم نه وي پرې ایښی دا دهغه عمل دواجب کېدو دلیل دی علاوه تردی کوم کسان چي اختری نه کوي دهغوی په باره کښي په احادیثوکښي ډیر وعیدونه راغلی دی مثلاً دنبی علیه سلام دا ارشاد مبارک دی چي څوک قربانی ونه کړي هغه دي زموږ عیدګاه ته نه راځي دقربانی ډیرفضیلتونه دي په مسند احمد کښي روایت دی چي زید ابن ارقم رضی الله عنه فرمایي چي درسول الله ﷺ څخه صحابه پوښتنه وکړل چی دا قربانی څه شی دی

ده مبارک وفرمايل چي داستاسو دپلار ابراهيم ﷺ سنت دی صحابه ورته وويل چي پردې باندي زموږ دپاره کوم ثواب سته؟ ده مبارک وفرمايل چي هو! ديوه وېښته به بدله کښي يوه نيکي او د وړيو په هکله يې هم وفرمايل چي دهرتار په بدل کښي يوه نيکي ده.

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چي نبی عليه السلام وفرمايل چي دقربانی په ورځو کښي تردې زيات خوښ عمل والله جل جلاله ته بل نسته.

دقيامت په ورځ به دقربانی حيوان دښکرو او وېښتيانو اوښنګرو سره راوستل شي اودقربانی وينه مخکی تردی چي پرمځکه توی شي دالله جل جلاله په نيزباندي قبليږي. نوځکه تاسو قرباني دزړه په خوښه کوی ابن عباس رضي الله عنه فرمايي ترقربانی زيات خوښ عمل والله جل جلاله ته بل نسته مګرداچي يوڅوک دقريب سره قرابت وکړي. (طبرانی)

رسوالله (صلی الله عليه وسلم) وخپل لور فاطمه الزهرآء رضي الله عنها ته ارشاد وفرمايه چي ته خپل دقربانی

دحلالېدو په وخت کښي حاضره و اوسه ځکه چي دوينو د اول څڅک دتوئېدوڅخه مخکي دانسان ګناهونه بخښل کېږي.

## اختری پر چا واجب دی

پرهر مسلمان، عاقل، بالغ، مقيم اختری کول واجب دی چي د هغه په ملکيت کښي ۵۲ نيمي تولې سپين زر يعني (۶۱۲.۳۵ ګرام) يا دهغه دنرخ برابر نورمال ترحاجت اصلي زيات وي د امال که سپين يا سره زر وي يا د سنګار سامان وي يا د تجارت مال او يا دا ړتيا څخه زيات د کور سامان يا داوسېدلو تر سرای اضافه بل سرای يا ځای وي.(شامی). د اختری په واجب کېدلو کښي پر مال باندي کال تيرېدل شرط ندی او پر کوچني او ليوني باندي که څه هم مالداره وي اختری نسته همدغسی پر شرعی طريقه مسافر باندی اختری نسته .(شامی)

**مسئله:** که پر چا اختری نه کېدی او ده يو حيوان د

اختری په نیت رانیوی نو اختری پر واجب سو . (شامی)

**مسئله:** پرکوم چاه چې سرسایه واجب وي پرهغه اختری هم واجب دی. (شامی)

## داختری ورځې

داختری کول یوائې تر درو وروځو پوري خاص دی د ذوالحجی (لسم، یوولسم، دوولسم) ۱۰ - ۱۱ -۱۲ خو په اوله ورځ کښې اختری کول افضل دی. (شامي)

## داختری وخت

**مسئله:** په کوم ځای کښې چې داختر او جمعی لمونځ جایز وي هلته داختر د لمانځه له مخه اختری کول رواه ندی او چیری چې واجب نه وي نو هغه خلک د لوی اختر په ورځ دصبح صادق وروسته دسهاردلمانځه ښخه مخکی هم اختری کولای سي. (درمختار)

**مسئله:** اختری دشپی هم رواه دی خو غوره داده چې په ورځ کښې حلال کړل سي. (شامی)

**مسئله:** که چیری دیو عذر په وجه داختر لمونځ په اوله ورځ و نه سي نو په دغه ورځ چي څنګه دلمانځه وخت تیرسي اختری حلالولای سي. (بدائع)

## داختري پرځای خیرات کول

**مسئله:** که چیری داختر درې ورځي تیری سوی او اختری یی دیوعذر په وجه ونه کړی نواوس داختری قیمت ومسکینانو ته ورکول واجب دی کچیری یی اختری رانیولی وو اوحلال ئی نه کړی نوهغه حیوان به پخپله په خیرات کنبي ورکول واجب دی . (شامي)

**مسئله:** که څوک داختر په درو ورځو کنبي داختری قیمت خیرات کړي په دې سره یی غاړي نه خلاصیږی اوهمیشه به ګناه کاره وي ځکه چي قرباني ځانته عبادت دی. (قربانی کی احکام اورمسایل)

## داختری حیوان

**مسئله:** بزه، پسه یو کس اختری کولای سي. غوا،

غويی،ګامېښه ،اوښ اوه کسان اختری کولای سي.
خو په دې شرط چي دټولو نيت به دثواب وي يوازي د
غوښو خوړلو به نه وي.

**مسئله:** په اختري کښي د بوزې لپاره ديوه کال کېدل
شرط دي او پسه که دشپږو مياشتو ؤخو دومره چاغ
وي چي ديوه کال والا سره سم معلوميدی نو هم
صحيح دی د غويی، غوا، ګاميښی لپاره دوه کاله او
اوښ لپاره ۵ کاله کېدل شرط دی ترديې کم عمر والا نه
صحيح کيږی. (عالمګيری)

**مسئله:** کچيری ديوحيوان خرڅونکی دحيوان عمر
پوره ښودی اوپه ښکاره يی خبره درواغ نه معلومېدل
نو پر خبره يی باور کول رواه دی. (جواهرالفقه)

**مسئله:** بې ښکرو حيوان او هغه چي ښکر يې مات وي
په اختري کښي رواه دی خو کچيري ښکر يی بلکل
دبيخ څخه ختلی ؤوييانه دی رواه ځکه چي اثر يی
حتمی پر دماغ باندي لويږي. (شامی)

**مسئله:** دړانده، کانه ،ګوډ حیوان اختری کول صحیح ندی هم دغه ډول هغه حیوان چي دناجوړی یا ډنګرتیا په وجه دحلالولو تر ځایه خپله نسي تلای نه دی صحیح.

**مسئله:** دخصي حیوان اختری کول جایز بلکې افضله دی. (شامی)

**مسئله:** هغه حیوان چي تر دریمي برخي ئی زیات غوږ یا لکۍ او نور پرې سوی وي اختری یی نه دی صحیح. (شامی)

**مسئله:** چي کوم حیوان غاښونه نه لري یا یي ډیرغاښونه نه وي دهغه اختری نه دی صحیح هم دغه سي هغه حیوان چي پیدا ایښي یی غوږونه نه وي نه دی صحیح.

**مسئله:** که چیري یو چا اختری جوړ روغ رانیوي بیایو داسی عیب پکښي پیداسو چي د اختري څخه یی منع کوی نو که رانیوونکی غني نه وي دهغه لپاره د دغه

حيوان حلالول صحيح دی او که غني وي نود دغه حيوان پر ځای دي بل رانيسي اختری دي يی کړی. (در مختار)

## داختری کولو سنت طريقه

پخپل لاس اختری حلالول غوره دی او که ييي بل حلالوی نو چي خاوند يی ورته ولاړ وي دا غوره دی.

**مسئله:** د اختري نيت خالص په زړه سره کول بس دی په ژبه ويل ضروري نه دی خو هو! دحلالوپه وخت کښي (بسم الله الله اکبر) ويل ضروري دی (نو اضافه توري مه واياست (سعيد)) داسنت عمل دی چي د اختری دحلالولوپه وخت کښي حيوان مخ پرقبله باندي پرې باسی اودا دعاوكړی: إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ۖ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ اودحلالولوورسته دادعاوكړی: اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْهُ مِنِّیْ كَمَا

تَقَبَّلْتَ مِنْ حَبِيْبِکَ مُحَمَّدٍوَّ خَلِيْلِکَ اِبْرَاهِيْم عليهما السلام (جواهر الفقه)

## داختری کولو اداب

**مسئله:** داختري يو څو ورځي دمخه ساتل افضله دی (شامی)

**مسئله:** داختري دحيوان شيدې لوشل يادهغه وجغونی پرې کول رواه ندی که چيری چاداسي وکړه نوهغه شيدې او وړی اويادهغوي نرخ خيراتول واجب دی. (بدائع)

**مسئله:** ① داختري دحلالولو لپاره دمخه چاړه ښه تيره کړی. ② يو حيوان دبل حيوان مختته مه حلالوی. ③ او د حلالولو وروسته ژر پوست مه ورڅخه کاږی. ④ او مه هم غوښي ټوټه ټوټه کوی چي تر څو حيوان ښه سوړنه سي. (شامی)

## داختري غوښي

۱ په اختري کښې دې شريکان خلک خپل برخې په تله وويشي نه په اندازه، خو که چيرې پر بعضو برخو سرا وپښې يا پوستکی يا بل شی ور اضافه کړل سي بيا په اندازه ويشل روا ده دی. (شامي او عالمګيري)

۲ غوره داده چې داختري غوښې درې برخې سي يوه برخه دخپل عيال لپاره وساتي او بله خپل په قريبانو کښې وويشي او بله برخه په فقيران او مسکينانو باندې وويشي او دچاچې عيال ډير وي هغه ټول غوښې خپله هم راګرځولای سي. (شامي)

۳ داختري غوښې خرڅول حرام دي.

۴ وقصاب ته په مزدوری کښې داختري غوښې يا پوست ورکول روا ندي. (جواهرالفقه)

## داختري پوست

داختري پوست خپله هم استعمالولای سي مثلا: ژی، زق، يا سلواغه يابل دنفع شی ورڅخه جوړولای سي

ليکن که يی خرڅ کړی نو دهغه قيمت خيرات کول واجب دی ماسيوی تر مسکينانو وبل چاته يي ورکول نه دي رواه اوداختري پوست بيله نيته دصدقې ورکول رواه هم ندی. (عالمگيری وغيره)

## بيلابيلي مسئلي

**مسئله:** داختري پرحيوان باندي پوست هلويل رواه دی. (احسن الفتاوی ج ۷ ص ۵۲۲)

**مسئله:** په حلال حيوان کښي دغه لاندي شيان خوړل حرام دي روانه وينه ، شاشه دانه ، تريخی، خايې، دنراوښځينه حيواناتو فرجونه، مرغړيان، حرام مغز. (ردالمحتاراو فتاوی رشيديه)

**مسئله:** اختری يوائځي خپل دځان لخوا واجب گرځي داولاد لخواپرچاه باندي نه واجب کيږي که هغه اولاد بالغه اوکه نابالغه وي که سرمايه داره وي اوکه ناداره وي. (شامی) يعني که زوي او پلار دواړه غنيان وه پر

دوارو جلا جلا اختری سته، د یوه په اختري د هغه بل غاړي نه خلاصيږي.

**مسئله:** که چیري یوکس داختري حیوان په دې نیت رانیوی چي هرکله بل شریک پیدا سو نوشریک کوم به یی نوبیا درانیولو وروسته بل څوک شریکولای شی اوکچیری اول دانیت ده نه درلودی نوبیا درانیولو وروسته که مسکین وو بل څوک نسي شریکولای اوکه غني وو بل څوک شریکولای سی خو شریکول یی ښه کار نه دی. (شامي)

**مسئله:** داختري دحیوان پوست ویوچاه ته دخیرات په ډول باندي ورکړی یایی خرڅ کړی نرخ یی ومسکینانوته ورکړی خو هو! ویوې دیني مدرسې اوجامعی ته یي چي ورکړی ترټولو غوره ده ځکه چي د دیني علم ژوندي کول ترټولو غوره کار دی. (قربانی کی احکام اور مسایل)

**مسئله:** دقرباني پوست دیوچا دخدمت به عوض کښي نسي ورکولای مثلاً ومؤذن ته یا امام صاحب ته په

تنخواکېښي نسي ورکولای. (جواهر الفقه)

**مسئله:** داختري حیوان که بلاربه وي هم یې حلالولای سي کچیری هغه دنس بچی یی ژوندی راوختی هغه هم حلال کړی اوغوښې یی خیرات کړی. (بدائع)

**مسئله:** کوم څوک چي اختری کوي دهغه لپاره مستحب دادی چي دلوي اختر دمیاشتي د اولي ورځي څخه بیا داختري ترحلالولو پوري خپل نوکان اوویښتیان پرېږ نه کړی. (ابوداود)

**مسئله:** کچیري دبغل او ترنامه لاندي ویښتیان ترڅلویښتو ورځو واوښتل بیادهغوی پاکول واجب دي. (قربانی کی احکام اورمسایل)

**مسئله:** داختري غوښې تردرو ورځو وروسته هم ایښوولای سي اوهم یی وچولای سي. (جامع الفتاوی)

**مسئله:** کچیری یوچا پریوکار باندي د قربانی نذر کښیښودی اوهغه کار وسو نوقربانی پرواجب سوه دهغې غوښې نذر کوونکی نسي خوړلای تهوله به

ومسکینانو ته ورکوي (عالمګیري)

**مسئله:** که چیري دیوچا سرمایه دحرام مال څخه وي هغه دځان سره په اختري کښي مه شریکوی که موشریک کړی دیوه اختری لانه صحیح کیږی.
(قربانی کی احکام اورمسایل)

**مسئله:** کچیری چاه وصیت وکړی چي زما پرځای زمادمرګ وروسته اختری وکړی نودهغه اختري تهولي غوښی خیراتول ضروري دی اوکچیری هغه وصیت نه وي کړی قریب یي دثواب لپاره دهغه پرنامه اختری وکړي نودغوښو اختیار یی دقریب دی. (قربانی کی احکام اورمسایل)

**مسئله:** که چیري یو حاجي صاحب په مکه شریفي کي شرعي مسافر وي یعني قصر لمونځ کوي نو اختری نه دی پر واجب او که یي لمونځ پوره کوی او غني وو نو مستقل اختری کول باندي واجب دی.
(امدادالفتاوی)

**مسئله:** کچیري دقربانی حیوان په تاله خرڅېدی

رانیول یی صحیح دي . (قربانی کی احکام اورمسایل )

**مسئله:** دغوا یا ګامیښي که چیري دوه تي او دبزې یوتی وچ سوی وو یاګرسره نه وي نودداسی حیوان اختری نه دی صحیح. (قربانی کی احکام اورمسایل )

**مسئله:** بعضي خلګ چاغ حیوان دخیال یادنامه لپاره رانیسي داسي کسانو ته داختري ثواب نه رسیږي هغوي باید د ثواب په نیت سره ښه چاغ حیوان واخلي. (قربانی کی احکام اورمسایل )

**مسئله:** کچیري دیو حیوان عمر پوره وي خو غاښونه یي نه وي کړي اختری یي صحیح دی . (شامی)

**مسئله:** کچیري دغوایی یابزې پیدایشي ښکرونه نه وي دهغوي اختری جایزدی . (بدائع)

**مسئله:** دګرګ (پمن) حیوان قرباني جائز ده په دې شرط چي ډیر یی کمزوره کړی نه وي. (قربانی کی احکام اورمسایل ) او په دې شرط چي ګرګي یي و غوښو ته نه وي داخل سوی (سعید).

**مسئله:** کچیري د اختري د حلالو په وخت کښي دغو ځارولو په وجه یو عیب پیدا کړي نو پروا نه کوي (ردالمحتار)

**مسئله:** نرښځی حیوان اختری هلته ناروا دی که خنثی (نرماده، نرښځی) مشکل وو دمطلق خنثی اختری ناروا ندی. (جامع الفتاوی) خنثی مشکل هغه دی چي د نر او ښځي فرق یي په هیڅ ډول نه کیږي. (هداية)

**مسئله:** که چیري څو ورونه سره ګډ وي، وېش یي نه وي کړی، او د ومره سرمایه یي لرله که یي چیري سره وویشي هر یو په خپل حصه غني کېدی، نو پر هر یوه جلا جلا اختری کول واجب دي، او که چیري مشترک مال ونصاب ته رسېدی خو جلا جلا نه رسېدی نو پر یوه هم اختری نه دی واجب. (کفایت المفتي)

**مسئله:** که چیري د یو چا څخه اختری قضاء سوی وي نو که اختری ژوندی ور سره وي هغه دي ژوندی خیرات کړي او که نه وو بیا دي د هغه قیمت خیرات کړي (حقانیه).

**مسئله**: که چیري په هیره سره یو چا د بل اختری حلال کړي اختری اداء کیږي. (شامي)

**مسئله**: د یو چا اختری چي هغه حاضر نه وي حلالول جائز دي که د هغه په امر سره وي او که نه وي. (عالمگیري)

**مسئله**: خپل حیوان د بل د خواه څخه د هغه د اختري په نیت حلالولو سره د هغه غاړي نه خلاصیږي. (عالمگیري)

**مسئله**: که چیري یو چا د اختري لپاره حیوان رانیوي د حلالولو څخه مخکي ورک سو بیا یي بل رانیوی وروسته هغه بل هم د اختر په ورځو کي پیدا سو نو که چیري دغه سړی غني وي نو د یوه حلالول پر واجب دي او که غریب وي د دواړو حلالول پر واجب دي. خو دغه هغه وخت چي دغه دوهم حیوان یي د اول پر ځای نه وي رانیولی، که یي رانیولی وو نو دده دپاره هم د یوه حیوان حلالول واجب دي. (الدرالمنتقی)

**تشريح**: د غني او فقير په دغه مسئله کي په دې وجه فرق سته چي پر غني شرعاً يو اختری واجب دی نو هغه په هر وار رانيولو سره نه اضافه کيږي، او پر فقير باندي د هغه په رانيولو سره اختری واجب ګرځي، چي رانيول دوه واره سول اختری هم دوه واره کيږي.

## تقريظ

**الحاج الحافظ القاري المولوي الشيخ سعيدمحمد ذاکري بولاني**

الحمدلاهله والصلوة والسلام على اهلهما وبعد: من يرد الله به خيرا يفقهه فى الدين (الحديث). د ديني مسائيلو تشريح ته هر وخت په هر ژبه ضرورت سته نو لهذا د قاري مولوي حکمت الله راغب صاحب د رسالې د مقبوليت دعاء کوو او د هميشه لپاره ورته د الله تعالى څخه د ديني خدمتونو توفيق غواړو او دغه رساله مسمى په (داختري منتخبي مسلې) ماتوله مطالعه کړی، الحمد الله ډير محکم او خوندور عبارت باندي د پښتنو وروڼو د پاره ډير ضروري مسائل د ښو کتابو په حواله راجمع کړي دي الله ﷻ دي دده سعيه مقبوله کړي. آمين آمين آمين.

## تقريظ

دمدرسه عربيه دارالعلوم محمديه صافيان د استاذانو موږ ټولو استاذانو د (اختري منتخب مسئلې) مطالعه کړې الحمد الله په دغه کتاب کښي د اختر او اختري اهم مسائل راجمع سوي دي الله ﷻ دي مولوي حکمت الله راغب صاحب ته نور هم ښه توفيق ورکړي چي نور هم په دغه اهم مسائلو کښي خدمت وکړي.

## تقريظ

### شيخ الحديث الحاج مولوي عبدالهادي صاحب

ماعاجز بنده دغه رساله چي د اختري پر ضروري مسائلو مشتمله ده مطالعه کړه د معتبرو کتابو سره د مذهب ددغه رسالې احکام برابر دي لهذا زه يي تائيد کوم، الله ﷻ دي مؤلف ته جزاء خير په دارينو کښي ورکړي او الله ﷻ دي دباقيات صالحات څخه وګرځوي. العبد الضعيف عبدالهادي

## تقريظ

د مدرسه عربيه دارالعلوم حقانيه شرقي لنبکر بازار د استاذانو دا رساله چي واقعا ډير ارزښتناکه او د عوامو دپاره ډيره مفيده ده ځکه دا د ديوبند دځلانده ستورو دکتابو څخه را خلاصه سوې ده او موږ تولو څه ناڅه مطالعه کړه مسائل يي ډير قوي او معتمد دي.

## تقريظ

### الحاج مولوي احمد شاه شاکر صاحب

الحمد لله وکفى وسلام على عباده الذين اصطفى اما بعد: فقد لاحظت هذه الرسالة للعالم الجيد مولوي حکمت الله راغب حفظه الله من مواضع عديدة فوجدتها نافعة للعوام ولکن الله اسأل ان تجعل خالصة لوجهه الکريم فان على ذالک قدير وبالاجابة جدير

جزى الله لمؤلفه وکاتبه وقارئه امين

## تقريظ

### دشيخ الحديث مدرسه محمديه مولوي عبدالحی عابد نوزادي صاحب

نحمده ونصلى على رسوله الکريم: د الهی رضا، د اسلام د سپيڅلي دين د اعلاء، د اسلامي جامعې دخدمت په موخه محترم ورور مولوي حکمت الله راغب صاحب د اضحيی يعني قرباني په هکله د يو تعداد مسائلو تاليف کړی دی چي تر ډيره حده پوري مسلمانانو وروڼو مشکلات په حل کيږي الله ﷻ دي ځيني راضي سي

# غوښتنه

لکه څنګه چې زموږ مدرسه یوه نوې جوړه
سوې اداره ده د هر پردین مین مسلمان ورور څخه
داهیله ده چې د دې مدرسې دارتیا وو دپوره کولو لپاره
خپل صدقه خیرات زکوت دکفارې فدیه یا د اختري
پوستونه اوغوښې ومدرسې ته ورکړي مدرسه دغیبي
امداد څخه ماسوا بله هیڅ سرمایه نلری خاص دالله ﷻ په
توکل یې کار چلیږي هر څوک چې مالي مرسته نسي
کولای او یایې توان نلري هغه دې دعا وې ورته کوي .

احقر حکمت الله راغب خادم المدرسه . (۰۷۰۳۴۶۵۳۱۱)

Download from:aghalibrary.com

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا پر لیکه کیږي:
www.taleemulislam-radio.com